انجنیر محمد داؤد اڅک

۰۵ سپتمبر ۲۰۱۷

## پر "ملي" مفهوم باندي لنډ باندار

کله چي په ۱۸ میلادي پیړۍ کي د روښانتیا (روشنګرۍ) غورځنګ په اروپا کي راپورته سوو او د کلیسا د تعصباتو ، د دین څخه ناوړه ګټه اخیستل او د مطلقه شاهي رژیمونو پر خلاف ئې د پرمختګ ، فردي ازادیو ، او عدالت ږغ پورته کړ نو پدغه وخت کی مسیحیت چي د اروپایانو ملي هویت او د خلګو ګډ ارمان وو ضعیفه سو او بالاخره ئي د ګډ هویت په حیث مفهوم د لاسه ورکړ . یعني په همدغه منځنیو پیریوو کي د روښانتیا غورځنګ پداسی حال کي پراختیا مومي او مسیحیت کمزوری کوي چی د مدرنیته کرند (جریان) تقریباً سل کلن منزل وهلی دی .

په اروپا کي د کلیسا تر ضعف وروسته بل داسي ارمان یا هویت نه وو چي واکمنان دي د هغه په واسطه خلک سره راټول او د یوه قیام لپاره دي منسجم او تشویق کړي په تیره بیا د جنګیالیوو د تشویق د پاره . پدې خاطر چي حاکمان خپلو جنګیالیوو ته مؤرال ورکړي او د وطن په نامه ئي د جنګ په لاره کي سربښندني ته اماده کړي نو د ملت یا Nation کلیمه ئي رامنځته کړل څو خلک سره را ټول او د جنګ لپاره انګیزه ورکړي .

ملت پلوي یا Nationalism په ډیره چټکی سره په نړۍ کي خپور سو ، په تیره بیا په اسیا او افریقا کي تر ازادۍ او دیموکراسی لا ژر رواج سو او پراختیا ئي وموندل .

اوس موږ او تاسو په ټولنیزو رسانیو ، کتابونو ، لیکنو او شخصي باندارونو کي د ملي کلیمه ډیره اورو یا ئي لولو خو د مفهوم په هکله ئي بیا هم اندونه بیل دي یا داچي ځني دوستان ئي د مفهوم په هکله پوره پیژندګلوي نلري .

پدي معنا : سربیره پر دی چي ملي یوه ښکلي کلیمه ده په عین حال کي یو پراخ مفهوم هم دی خو په ګرامري لحاظ نسبي صفت دی چي د ملت څخه اخیستل سویدی . د ملت پراخ او تاریخي بحث به راتلونکي ته پریږدو خو د نسبي صفت دنده داده چي نسبت و یو ځای یا شي ته رسوي . کله چي د ملي کلیمه پکار وړو باید یوه شي یا نوم ته مخاطب سو څو چي نوموړی صفت وهغه ته اړوند کړو او هر کله چي یوه پدیده یا مفهوم د ملي صفت واخلي هغه پدیده یا مفهوم د فردي غالب څخه وزي او د خصوصي ملکیت څخه هم ازادي اخلي څو چي په ملت ، ملل یا د هغه ټولني په ټولو خلګو پوري اړه پیدا کړي .

معنا داچي هر ملي مفهوم ، ارزښت یا پدیده د یوې ټولني په ټولو قومونو ، اقشارو او طبقاتو پوري اړه لري بیله دې چي ښکارهنګ (فرهنګ) ، مذهب ، قوم یا ژبه په نظر کي ونیول سي .

ملي شخص ، گوند ، حاکم یا ملي حکومت هغه دی چي ارمانونه ئي د ملت ارمانونه وي ، د ملت په درد او غم کي شريک وي ، د ملت د سوکالی او پرمختگ په فکر کي وي ، د ټولني ټولو قومونو او مذهبونو ته په یوه سترگه گوري ، د هغوی حمایه ورسره وي او ملي گټو ته ئي تر شخصي گټو لومړیتوب ورکړی وي . یعني ټول اولس په عقلي ډول څني راضي وي .

ملي شخص ، گوند یا مقام سربیره پردې چي د خپل ښایستگی پر بنسټ د مملکت د بیلو قومونو او مذهبونو په منځ کي محبوبیت او ملاتړي لري باید تل د ملي گټو د ساتني او ښايني په چوکاټ کي فکر وکړي ، خبري وکړي او عمل وکړي .

مهمه دا چي یو ملي شخص ، گوند یا حاکمیت پر ټولو پورته صفاتو سربیره باید د ټولو ملي ارزښتونو څخه په کلکه دفاع وکړي، که نه ملي به نه وي .

ملي ارزښتونه عبارت دي له : ملي حاکمیت ، ملي صلحه ، ملي وحدت ، ملي هویت ، ملي استقلال ، ارضی تمامیت ، سیاسي ازادي ، ملي افتخارات ، ملي تاریخ او داسي نور .

که چیري په یوه ټولنه کي د پورته ارزښتونو څخه یو ارزښت د یوه حاکمیت ، گوند یا شخص لخوا تر پښو لاندي سوی وي یا معامله پر سوې وي معنا داچي د ملي گټو خلاف غیر ملي عمل سویدی او هغه حاکمیت یا گوند ته هیڅکله ملي ویلای نه سو .

۴-۹ – ۲۰۱۷